# د ملي هېندارې په نکلونو کښې د پښتني اقدارو او روایاتو یوه څېړنه

# Pashtun Traditions And Values: Research In The Light Of Milli Hindarah

مرتضیٰ خان کاکړ*

**Abstract**:

Fictional writings particularly the folkloric tales reflects the customs and rites of a society with the special reference of tribal societies. As pashtuns constitutes one of the largest societies of the world, their values could be traced in folkloric accounts. Author of this paper has extensively carried out research regarding the values and traditions of pashtuns in the light of the Milli Hindarah. He has also discussed its assorted aspects.

په اولسي داستاني ادب کښې د نورو ادبي اصنافو غوندې په نکلونو کښې هم د وخت له تېرېدو سره ډېر تغیر راغلی دی. په پخوانۍ قیصو کښې د مافوق الفطرت شیانو څخه چې په هغه کښې دېب، ښاپېرۍ، روې، تور دېب، جادو، طلسم او داسې نور بیانېدل، خو په موجوده دور کښې که مونږ داستان وپلټو نو مونږ دا محسوسولی شو چې په نکلونو کښې د جوړښت او موضوعاتو په اعتبار ډېر فرق راغلی دی، پخوا به نکلونه په میاشتو میاشتو لګیاوو او خلقو به په حجرو کښې د وخت تېري دپاره وئیل او یو جماعت خلق به یې له ډېرو لرې لرې ځایو اورېدو ته راتلل خو وروسته بیا دا شکل بدل شو او نکل ورځ په ورځ کمېدو او په اوسني وخت کښې یې د افسانې شکل غوره کړی دی. موضوعات هم د پخوا غوندې د تور دېب، ښاپېرۍ، روي وغیره خیالي قیصې نۀ شوې پاتې بلکې د ژوند د هر اړخ سره یې ډېر نزدې تعلق پیدا شوی دی.

د پښتو اولسي نکلونو لیکوال په خپل هنر او فن سره د نکل د مرکزي کردار، د عاشق او محبوبا خبرې یا د تاریخي مېړانې د ژوند د مختلفو اړخو اصلاح او ورسره نور لازمي توکي یې په نکل کښې په داسې خوند ټولنې ته ورکړي دي چې سړي ته د انسانانو له ژوند سره تړلي ښېخي ډېر موضوعات په کښې لیدل کیږي یعني له دې نکلونو معلومیږي چې دا تر یوې موضوع پورې محدود نۀ دي بلکې د وخت له تېرېدو سره سره په کښې مختلف موضوعات منځ ته راځي، دلته چې مونږ د کومې موضوع په حقله څېړنه کوو هغه به ارو

* Ph.D Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan Quetta

مرو په داستان کښې د پښتونولۍ بنيادي اقدار او روايات وي، لکه په منظوم ديواني ادب کښې د پښتني اقدارو بشپړه ترجماني شوې ده، که ننګ، غيرت، مېلمستيا، مېړانه، توره، داړه، برمته، مرکه، جرګه، ننواتې او داسې نور پښتني اقدار په منظوم ادب کښې ځای شوي وي هم دغه پورتني اقدار په اولسي داستاني ادب کښې هم ځای په ځای راوړل شوي دي. دلته زۀ يوازې د ملي هېنداري اولسي داستانونه را اخلم او د پښتني اقدارو نمونې په کښې لټوم په ډېر زيات شمېر د دغو اقدارو او رواياتو ځرکونه په دغو نکلونو کښې په نظر راځي. دا موضوعات يې ځکه خپل کړي دي چې پښتو اولسي نکلونه زمونږ د ټولنې د قامي اولسي ادب يوه اهمه برخه ده. پښتو ادب کښې د منظوم او منثور داستانونو يوه لويه سرمايه موجوده ده. د انسانانو د معاشرتي ژوند د ابتدا پيداوار دی او دا نکلونه د انسانانو د روزنې او ښوونې، سوچ او فکر، ذهني تخيل، تهذيب و تمدن، شعر او ادب يوه ښکلې هېنداره ده او په دغه هېنداره کښې د ژوندانۀ ټول عکسونه ښکاري. دا هغه نکلونه دي چې په اول سر کښې د الف ليلٰى د نکل يوه برخه ښکارېده خو وروسته يې ځان په مستقل شکل کښې ښکاره کړ.

په پښتو ادب کښې د نکلونو ډېرې نوې نمونې شته چې وروسته يې بيا نوي نوي نومونه هم خپل کړي دي د مثال په توګه په لومړي سر کښې نکلونو ته داستانونه هم ويل شوي دي او وروسته بيا افسانه او ناول هم په داستان کښې ګډ شوي دي او دې ټولو ته يې د داستاني ادب نوم ورکړی دی، لکه د اردو ژبې مشهور ليکوال ليکي:

"داستان بنیادی طور کہنے کا فن ہے، اس میں کہانی کے پیرائے مثالے، ہیرو اور اس کے رفقاء کے کارنامے رزم وبزم او حسن وعشق کی خیالی باتیں اور محیر العقول واقعات ایک قابلِ لحاظ طوالت اور زبان وبیان کی لطافت کا خیال رکھتے ہوئے اس طرح بیان کئے جاتے ہیں کہ زمانی و مکانی بعد کے احساس کے ساتھ ساتھ دلچسپی بھی برقرار رہے"(1).

زما په خيال دغه ټول لوازمات په نکلونو کښې په زياته توګه ليدل کيږي ځکه چې په داستاني ادب کښې خو پوهانو افسانې او ناولونه هم شامل کړي دي او په پورتنۍ حواله کښې ډېر شيان شته چې د افسانې دپاره لازمي نۀ دي، ځکه چې په افسانه کښې د محير العقل خيالي خبرو ګنجائش نۀ شته، بلکې اوس خو په په افسانوي ادب کښې افسانه نګاران افسانې ته د نورې نوې بڼې ورکولو هڅه کوي. چې د افسانې په ځای يې د افسانچې نوم هم ورکړی دی، ځکه خو د اردو ژبې ليکوال وايي:

"خوب سے خوب تر کی تلاش اور زندگی کے اسرار ورموز سے پردہ اٹھانے کی خواہش آدمی کی سرشت میں داخل ہے وہ پہلا دن جب انسانی ذہنی شعور سے آشنا ہوا تب سے اب تک وہ یہی کرتا رہتا ہے"(2)

لکه پورته چې ما وویل دلته زهٔ د ملي هېنداري په نکلونو کښې پښتني اقدار او روایات لټوم او په دغه موضوع باندې مخ په وړاندې ځم، نو په پښتني اقدارو کښې لومړی قدر مونږ ننګ را اخلو چې په نورو ادبیاتو کښې څنګه ځای شوی دی او په کومه معنا اخستل شوی دی او د ملي هېنداري په نکلونو کښې ننګ په کومه معنا راغلی دی:

**ننګ:** دا هغه قدر دی چې په بېلابېلو سیمو یې تعریف بدل شوی دی، د جنوبي پښتونخوا په ځینو سیمو کښې ننګ د ست په معنا هم اخستل کیږي هغه ست چې کله یو مېلمه د کوربه کور ته ورشي او هغه ورته د چای یا ډوډۍ ست کوي دغه ست کله په ننګ اخستل کیږي لکه پښتانهٔ وایي پلانکي سړي ته ورغلی وم، د ډوډۍ یا چای یې ډېر ټینګ ننګ راته وکړ خو ما قبول نهٔ کړ یا د نفي په معنا کښې وایي پلانکي ته ورغلی وم والله که یې د چای ننګ لاراته کړی وي، خو په مجموعي توګه ننګ هر هغه کار ته ویل کیږي چې په کښې د یو مظلوم سړي یا مظلوم وطن دپاره قرباني ورکړل شي ځکه خو د ملي هېنداري په یو مشهور نکل "مومن خان او شېرینو" کښې کله چې مومن خان هندوستان ته لاړ شي او هلته د باچا تر څنګ ناست وي باچا ته د ججې خط راشي مومن خان خط ووینې نو ورته ووایي:

"ججه نهٔ ورکوم، زهٔ هیله و خدای ته لرم د دې ججې څخه دې خلاص کړم، زهٔ پښتون یم دا بې ننګي پر ځان نهٔ قبلوم، څو یا تا د ججې څخه خلاص نهٔ کړم یا سر بای نهٔ لم نهٔ یې پرېږدم"(3).

دغسې بیا مومن خان په یو دوکان ناست وي د باچا لور په اوښ سپره وي او د ښامار د خوړلو دپاره استول کیږي، مومن خان ورته ګوري چې:

"یوه ښځه ده ځان یې ښهٔ جوړ کړی دی په اوښ په باره کښې سپره ده، یو سړي اوښ تر مهار نیولی دی کشوي یې، ښځه چې د زرګر په دوکان راغله ناره یې وکړه:

ځوانانو ننګ را باندې وکړئ
پلار مې مغل دی ما ښامار له لېږینه

په دې مجلس کښې یو ټوکمار ناست ؤ د دې ښځې په ځواب کښې یې ناره وکړه:

مونږ خو به ننګ درباندې وکړو
مېړهٔ دې ناست دی په مجلس کښې څوړ بړېتونه

مومن خان د زرګر څخه پوښتنه وکړه دا څهٔ ناره او دا څهٔ نقل دی؟ زرګر ورته وویل هلته په غرهٔ کښې یو لوی ښامار دی، هره ورځ یوه ښځه یو اوښ په ډوډۍ بار باچا د ښار څخه

ورلېږي، ښامار يې خوري، کـه يې يوه ورځ ور و نـۀ لېږلـه نـو ښامار راځي په ښار ګډېږي سړي په سا کښې الـوزوي خـوري يې. مخلـوق غرقـوي او دغـه ښـځه او اوښ او ډوډۍ پـه دې ښار کښې په وار ورلېږي نن د باچـا د لـور وار دی دا ښـځه د باچا لـور ده او دا سړی په دوکان کښې ناست دی د وزير زوی دی د دې ښځې مېړۀ دی.

مـومن خـان ويـل خـدای يـو مـالګې تـروې چې شـېرينو هـم ښـځه ده او دا هـم، کـه زۀ ژونـدون وکړم، څو يا ځان نۀ بايلم يا دا ښځه خلاصه نۀ کړم.

لنـډه دا چې.... [ښـامار راغلـی مـومن خـان لـه ځـان سـره يـوه تېـره تـوره ونيولـه] مـومن خـان [ښـامار تـه] پښـې ور څرمـه کـړې د ښـامار پـه خولـۀ کښـې يـې پښـې ورکـړې، خـو ښـامار تېـراوۀ خولۀ يې سمدلاسه په توره څيريده، څو ښامار تر نيمې څير شو او مړ شو"(4).

پـه پـورتنۍ حوالـه کښـې د ننـګ تـوری تېـر شـوی دی معنـا دا ځينـې اخسـتل کيـږي د يـو مظلـوم پـه مظلوميـت کښـې مرسـته وشـي. لکـه مـومن خـان چـې د باچـا يـا ښـځې مرسـته کـړې وه. خـو ننـګ پـه خصوصـي توګـه دې تـه ويـل کيـږي د چـا سـره پـه جنـګ کښـې ډغـره ووهـي نـو دغـه عمـل تـه ننـګ ويل کيږي او سړي ته ننګيالی ويل کيږي. لکه خوشحال خان خټک چې وايي:

"د افغـــــان پـــــه ننـــــګ مـــــې وتړلـــــه تـــــوره
ننګيـــــالی د زمـــــانې خوشـــــحال خټـــــک يـــــم" (5)

د ننګ په حقله ښاغلی درويش دراني وايي:

"پښـتون پـه پښـتونولي پښـتون دی او د پښـتونولۍ پـه بـېلا بېلـو توکـو کښـې ننـګ، پـت او مېړانـه هغـه څۀ دي تـر سره کـول يې لـوړ همت، کلکـه اراده، سپېڅلی مـزاج، سوچه فکـر، کـره رويـه او اوسـپنيز بـازو غـواړي، پـه دغـه لـړ کښـې د پښـتونخوا د دنګـو غرونـو څـوکې وي چـې شـمله هسـکه سـاتلو تـه يـې هڅـوي او شـا تـه يـې بيـا پښـتنه مېـرمن د مـور، خـور، مـاينې يـا محبـوبې پـه بڼـه ولاړه وي، مېړانـه يـې سـتايي او سـپيتانۀ يـې غنـدي، دی هڅـه کـوي ځـان يـې لـه غنـدنې خونـدي او د ستاينې وړ وګرځوي"(6).

**مرکـه:** مرکـه هـم د پښـتني دودونـو يـو خونـدور او د امـن د خپرولـو يـه اهمـه ذريعـه ده، مرکـه کـه پـه هـره معنـا واخلـو مقصـد يـې يـو راځـي، پـه دواړو کښـې د ټـولنې د امـن او ښـۀ ژونـد کـول برقـراره سـاتي. مرکـه پـه دوه ډولـه وي يـوه هغـه مرکـه وي کلـه مـونږ يـو هلـك او نجلـۍ پـه ژونـد کښـې سره شـريك کـوو نـو تـر لـه مخـه خلـق ور اسـتوو دې خلقـو اسـتولو تـه مرکـه وايـي، د دغې مرکې د ارزښت په حقله درويش صاحب ليکي:

"پـه پښـتني ټولنـه کښـې مرکـه هـم ډېـر لـوی رول لـري، دغـه رول هغـه د ورځنـي ژونـد پـه داسـې عـادي خبـرو کښـې هـم ترسـره کـوي لکـه د خپلـې کـورنۍ يـوۀ هلـك تـه چـې څـوك کـوزده کـول غـواړي نـو د کـوم چـا لـور يـا خـور چـې يـې خوښـه کـړې وي، هغـه تـه د مرکـې پـه خولـۀ دا پيغـام ورلېـږي چـې زمـونږ زړۀ غـواړي چـې خپلـوي درسـره وکـړو. کـه دا خبـره تاسـې تـه د منلـو وړ وي نو د خپـل کور پلانکۍ نجلۍ زمونږ پلانکي هلك ته راکړئ"(7).

د پښـتني اقـدارو دغـه اهـم تـوکی مرکـه د موسٰـی جـان او ګـل مکـۍ پـه نکـل کښـې يـا د ملـي هېنداري په نورو نکلونو کښې ليدل کيږي. لکه:

"نـو يـې دسـتې مرکـه ورتـه را ولېږلـه، خلـق چـې راغلـل د فېـروز دروازه يـې ورو ټکولـه هغـو ورتـه ويـل چـې څـوك ياسـت؟ دوی ورتـه وويـل چـې مـونږ د باچـا کرکـه يـو، باچـا پـر ببـۍ مئـين شـوی دی درځخـه غـواړي يـې، دا نقـل يـې ورتـه وکـړ. ښـځو ورتـه وويـل چـې نارينـه مـو پـر کـور نـۀ شـته او پـلار يـې هـم پـه سـوداګرۍ تللـی دی، تاسـې دومـره صـبر وکـړئ چـې پـلار يـې راشـي، مرکـه چيـان بېرتـه راغلـل باچـا تـه يـې دا حـال ووايـۀ، باچـا هـم زور نـۀ شـو پـر کـولی پـرې يـې ښـووله...... [چـې د نجلـۍ پـلار لـه سـفره راغلـو] بلـه ورځ سـهېلي بيـا مرکـه ورواسـتوله، ببـۍ يـې ورکـړه پـه ډېـر عـزت يـې وادۀ کـړه، هـر رنګـه وادۀ چـې ؤ، ؤ، بـه، فېـروز تـه يـې ډېـره دنيـا ورکـړه، نهـايتي يـې خوشحاله کړ"(8).

د پورتـه ورکـړې شـوې حـوالې پـه نتيجـه کښـې مـونږ وئيلـی شـو چـې پـه دې نقـل کښـې څومره د پښـتني اقـدارو پـه کلکـه پېـروي شـوې ده حتٰـی چـې بادشـاه هـم د دغـه پښـتني قـدر نـه سر غړونه نۀ ده کړې.

دويـم ډول هغـه مرکـه ده چـې د دوو فريقينـو يـا قبيلـو تـر مـنځ بـد وي او د هغـو بـدو د ختمولـو دپـاره خلـق تـر مينـځ د ثـالثي کـردار ادا کـوي او هغـه بـد لـه منځـه وړي پـه دې حقلـه هـم دروېش دراني وايي:

"خـو کلـه کلـه بيـا د دوو کورنيـو تـر مـنځ يـوه درنـه لانجـه پېښـه وي، د کـومې کـورنۍ لـه خـوا زيـاتوب شـوی وي او هغـه اوس نـۀ يـوازې دا چـې پـر خپلـو کـړو پښـېمانه وي بلکـې د دغـو کـړو د ازالـې پـه توګـه تـاوان وړلـو تـه هـم تيـاره وي، نـو د سيمې مشـرانو، بزرګـانو او عالمـانو يـوه مرکـه دا بلـې کـورنۍ تـه ورولېـږي يـا دغـه مخـور پـه خپلـه ور ټـول شـي او ور شـي چـې پـه څـۀ نـا څـۀ توګـه هغـوی روغـې کولـو تـه وهڅـوي او هـر ډول چـې وي يـوه لاره را وباسـي، دا خـو مـونږ تـه څرګنـده ده چـې پښـتانۀ د مرکـې درنـاوی پـه هـر حـال کښـې کـوي، پـه دا نـو کـه خبـره شـونې وي، مرکـه تـش لاس نۀ رخصتوي"(9).

د دغه پورتني دويمې مرکې مثال مونږ د فتح خان برېخې په نکل کښې هم ورکولی شو. کله فتح خان له کوره خوابدی شو او پلار يې غوښتل چې بېرته کور ته راشي او د سفر اراده ترك کړي نو يې فتح خان ته مرکه ور واستوله چې:

"فتح خان خبر شو چې مور دې راغلې ده، په پلانۍ دروازه کښې ولاړه ده نهٔ دې پرېږدي د (کلابس دوې دروازې وې) فتح خان پر بله دروازه ځنې ووت، مور يې خبره شوه چې فتح خان پر بله دروازه ووت نو يې ناره وکړه:

که دوې دي لويه خدايه کلابس دروازې دوې دي
پر دا يوه مې فتح وزي پر دا بله يې د مور سوې نارې دي

مور يې دلته پاته شوه، فتح خان دوی د پردل خان او د بي بي رابيا کلا ته راغلو چې و دغې کلا ته مختر کلا وايي، د کلابس څخه ځلور کروه د شمال شرق و خوا ته تلهٔ، دلته د فتح خان پلار څو کسه غټ غټ د برېخو سپين ږيري د مختر کلا ته ور ولېږل چې تاسې ورشئ پر مرکه شئ چې ګوندې را وګرځي"(10).

د مرکې د دغه دويم ډول مثال مونږ د مومن خان او شېرينو له نکل څخه هم ورکولی شو چې کله د مومن خان له خوا زبردسته ته د شېرينو د ودولو خبر راشي نو زبردست انکاري شي چې زما پلار نهٔ شېرينو مومن خان ته ورکړې وه او نهٔ يې ورکوو، نو خبره جنجالي شوه بيا مرکه ورغله چې دا جنجال له منځه يوسي:

"مرکې ورته ووئيل چې مه کوه، دا ښهٔ کار نهٔ دی، زمونږ مخ مه ماتوه په هرڅهٔ چې ته خپله خور ورکوې مونږ يې قبلوو، څرنګه چې د پښتنو دا خوی دی چې مرکه ورته راغله څو يې وس کيږي مخ يې نهٔ ماتوي، نو ځکه زبردست خان ووېل چې اول خو يې نهٔ ورکوم که بيا هم تاسې ټينګ ياست نو ښهٔ دی زما د پلار د پهلوانۍ سپر يو من په تول پاته شوی دی، په دغه سپر دې دوولس سپره يعنې دوولس منه بتکۍ ماته راکړي نو به يې ورکړم، که نهٔ وي هيڅ.... مرکې ووېل چې پورته کړئ لاسونه، دعا وکړئ قبوله مو ده"(11).

دا د مرکې دواړه قسمونه د مومن خان د نکل په يوه مخ راغلي دي چې مونږ يې په اسانه توګه سره بېلولی شي.

## ولور:

دغسې له پښتني اقدارو څخه يو قدر ولور دی چې په اسلامي توګه هم بې ولوره نکاح نهٔ صحيح کيږي په پښتني ټولنه کښې هم ولور د يوې اهمې فريضې حېثيت لري. د ولور په حقله ښاغلی درويش دراني ليکي:

"په پښتني ټولنه کښې ولور يو داسې شی دی چې له ځلمو ځخه د يوۀ ذمه وار انسان د جوړولو په لړ کښې ډېر لوی لاس لري.... [دا ځکه چې وروسته دی وادۀ کولو ته اړتيا لري] او وادۀ هله کېدای شي چې دی ولور وګټي، ځکه نو پيسه ګټل او سپول د دۀ دپاره تر ټولو ارزښتناکه چار وي او دا چار له دۀ ځۀ يو ذمه وار انسان جوړ کړي"(12).

په پښتني ټولنه کښې ولور کله کله دومره ګران شي چې انسان يې د ګټلو وس نۀ لري، کله کله بيا چې ځوك له خپله اولاد سره ډېره زياته مينه لري او زړۀ يې نۀ وربانديې کيږي چې د بل چا کور ته يې وادۀ کړي نو د خپلې لور ولور دومره زيات کښېږدي چې ځوك يې هم نۀ شي پوره کولی او د دغې نجلۍ د پلار مقصد دا وي چې دا ولور خو هسې هم ځوك پوره کولی نۀ شي بېرته به لور په کور را پاته شي، او که يې دغسې کښېښوي نو بيا خلق پېغور ورکوي د خلقو له پېغوره د ځان خلاصولو دپاره دا حربه استعمال کړي، خو د پښتو يو مشهور متل دی چې د ولور پيسې د عثمان غني له خزانې وي او خدای پاك له يو خوا نه خوا داسې اسباب ورته تيار کړي چې د هغۀ سړي کار وشي او د ولور له بوجه خلاص شي، د دې د مثال دپاره مونږ د ملي هېنداريې د جلات خان او شمايلې د نکل نمونه وړاندې کولی شو، کله چې د شمايلې له پلار خونکار باچا ځخه مور خپله لور شمايله پټه کړي او دا لويه شي بيا دی باندې خبر شي او زړۀ يې نۀ غواړي نو يې د ولور دپاره داسې شرطونه وټاکي:

"(1) د اوسپنې کونده به د لرګي په تبر ماتوي.

(2) د شمايلې ژړه غوا چې ښکر يې په الماسو کښې نيولی دی، دا به لوشي.

(3) دغه غوا چې ولوشې شيدې به يې درې واره په ځغاسته و بام ته خېژوي.

(4) شګې او ايرډن يې سره ګډ کړي دي نيمه خونه يې په ډکه کړې ده، دا به سره جلا کوي.

(5) زمری به راولي د باچا د زمري سره به يې جنګوي، که يې دا زمری مات نۀ کړ هم يې بايلوله.

(6) د شمائلې د بنګلې لار به پيدا کوي چې يعنې د کومې خوا د دې د ناستې ځای ته لار ورځي."(13).

دا هغه شرطونه دي چې د شمايلې پلار د دې د ولور په توګه ټاکلي وو او د جلات خان شپږ ورونه وربانديې قربان شوي وو. خو جلات خان ته د عثمان غني يا ملا ميرو له رويه کومك حاصل شو او شپږ سره شرطونه يې پر ځای کړل، چې ځلور په کښې شمايلې ورښودلي وو او د دوو بندوبست جلات خان خپله کولی شو، او دغسې يې ټول شرطونه په ځای کړل او شمايله يې وګټله د عثمان غني د خزانې يوه دروازه ورته خلاص شوه.

دا د پښتني اقدارو څخه ولور ؤ چې مونږ یې نمونه وړاندې کړله دغسې د ولور یوه نمونه د مومن خان او شیرینو په نکل کښې هم د دوولسو بتګیو د سرو زرو په صورت کښې هم تېر شوی ؤ. او په نورو نکلونو کښې یې هم نمونې شته.

**مېلمستیا:** له پښتني اقدارو څخه یو بل قدر مېلمستیا ده د مېلمستیا په حقله د ملي هېنداري په ډېرو نکلونو کښې خبرې شوې دي چې د مېلمستیا ارزښت تري په ښه توګه څرګندیږي دلته یې د مثال دپاره نمونه راوړم:

"موسٰی جان ګورم پرېښوو، رباب یې و ځنګ ته واچاوۀ، د فقیر څخه یې دعا او رخصت را واخیست، را رهي شو، هله هله هله دا دی هرنائي ته راغی، برابر پر پوښتنه د ولي جان مهمانخانې ته ورغی، د ولیجان سره یې روغبړ وکړ، ډوډۍ چې یې وخوړله ولي جان ورته وایي چې ځوانه ته خو یو ګړی دغه ستا رباب راته ووهه چې لږ څۀ مې طبعیت خته دی چې طبعیت مې لږ څۀ ښۀ شي بیا به پوښتنه سره کوو..... [پر مخ لیکي] تر دې مابین موسٰی جان او ولي جان را ورسېدل، د لرې څخه یې دا سپارۀ ولیدل چې ولاړ دي، ولي جان و موسٰی جان ته وویل چې مېرولي لکه چې د دې مېلمنو عزت نۀ دی کړی چې ولاړ دي، ولي جان قسم واخیست که یې د مېلمنو عزت نۀ ؤ کړی که یې بې مرګه پرېږدم، چې را نږدې شول که یې کتل مېرولي زاری ورته کوي چې کښېته شئ، دوی نۀ کښېته کېږي، ولي جان چې خپل زوی ولید ډېر ځنې خوشحاله شو ویل افرین ښېشکه زما زوی یې، پښتون یې"(14).

دا د پښتنو د مېلمستیا حال دی چې کله هم د مېلمه د بې عزتۍ تصور هم نۀ شي کولی، میرولي چې د ماشوم زوی د مرګ په باره کښې قسم اخلي چې که یې د مېلمنو خیال نۀ ؤ ساتلی بې مرګه به یې نۀ پرېږدم، او حال دا چې مېرولي لاماشوم هم ؤ، او وروسته دی ورته وایي چې افرین د مېلمنو په باره کښې دې د پښتنو د روایاتو خیال ساتلی دی که دې روایات مات کړي وی او مېلمنو ته دې د ناستې او خوراك ست نۀ وای کړی نو بې مرګه مې بل کار نۀ ورسره کاوۀ. دغسې د مېلستیا دپاره د پښتنو جلا حجرې او غټې غټې حجرې جوړول د پښتنو د مېلمستیا ګواهي ورکوي.

**حجره:** د پښتنو له روایاتو څخه یو روایت د حجرې هم دی چې نن سبا هم په قبایلي سیمو کښې حجرې موجودې دي او هرکله ورته مېلمه او مسافر ورتلای شي، دغه د حجرې روایت دی چې ښاري پښتنو په بېکټ یا مېلمستون بدل کړی دی یعنې په صورت کښې که څۀ هم د ماحول او ښاري ژوند او ښاري مځکو له کبله فرق راغلی دی خو بیا هم هغه د حجرې سوچ او فکر د پښتنو په ذهنونو کښې موجود دی او په ښارونو کښې یې د

مېلمستون و حجرې انداز خپل کړی دی، حجره په دوو معناوو اخستل کيږي يوه هغه حجره وي چې کله د ماجت په يوه کونج کښې جوړه وي او د ماجت طالبان په کښې اوسيږي دويم ډول هغه حجره ده چې پښتانۀ يې خپلې کلا سره نزدې د مېلمنو او مسافرو دپاره جوړوي. د ملي هېنداري په نکلونو کښې د دواړو حجرو نمونې شته، لومړی هغه حجره چې په ماجت کښې د طالبانو د استوګنې دپاره جوړه شوې وي د مثال دپاره يې نمونه د طالب جان او ګلبشرې په نکل کښې وګورئ، خو دا خبره تر ډېره حده منل شوې ده چې په ملي هېنداره کښې د مينې او عشق په حواله د طالب جان او ګلبشرې تر نکل بل خوندور نکل نشته، د مينې د داستان په حواله لږ اوږده حواله را اخلم:

"خط چې راغلی طالب جان چې ولوست، پر سر يې اور بل شو، مځکه ځنې ورکه شوه، نو يې دستي فکر وکړ چې زياته په دې مسجد کښې زما اوسېده ښۀ نۀ دي ځواب يې درکړ، آخو په ډېر ارمان يې دغه مسجد او حجره پرېښووله ولاړ چې تلی نو يې دلته په يوۀ کاغذ کښې دا لاندې مصرۍ او لندۍ وليکلې نو يې د حجرې دننه په يوۀ چاك كښې خط کښېښو، نو ولاړ:

د کلي منځ کښې به نارې کړم
ليلی زما له يارۍ واخستل لاسونه

دا يې د حجرې په يوه چاك كښې کښېښو نو طالب جان ولاړ، مګر زړۀ يې د مينې د اور بل په ځنځيرو بند دی، کله لرې تلای شي ورسته هغه مينځه راغله ګلبشره يې خبره کړه چې طالب جان نشته، کالي يې اخستي دي تللی دی، ګلبشرې چې دا واورېدل، آه يې کړه، يو سوړ اسويلی يې وکيښ چې څۀ فساد راوشو، خو زړۀ يې د بېلتانۀ په اور کباب شو مځکه ځنې ورکه شوه، دستي يې توره چادري پر سر کړه پټه راووتله راغله که ګوري ځای شته جولا نشته، حجره توره ولاړه ده، دغسې دستي د حجرې پر بام وختله چې شا و خوا وګورم چې ګوندې د حجرې پر بام پروت وي، يا نژدې مې دلته په سترګه شي، خو شا و خوا د حجرې پر بام وګرځېدله، طالب جان نۀ ؤ، نو يې ناره وکړه:

حجره يې شته طالب يې نشته
زۀ پر حجره لکه تور مار وګرځېدمه"(15)

دا د هغه ډول حجره وه چې د طالبانو د استوګې دپاره جوړه شوې وي اوس به د هغې حجرې په اړه وګورو چې پښتانۀ يې د مېلمانۀ د مېلمستيا دپاره جوړوي.

"حجره د پښتنو د سماجي، سیاسي او اجتماعي ژوند مرکز دی، حمزه بابا هم د پښتنو د اجتماعي ژوند دې مرکز ته اشاره کوي:

دا امېد مې د پښتون اشنا نه ؤ
چې مېلمه یې له حجرې تللی نهر دی"(16)

د پښتنو د دې حجرې په حقله د ولي جان او موسٰی جان د لومړي ملاقات حواله به زما په خیال کافي وي چې کله موسٰی جان د ولي جان مهمانخانې [حجرې] ته ورغلی او ولي جان ورته د رباب وهلو خبره کړې وه. خو د حجرې خبره په نورو نکلونو کښې راغلې ده، لکه:
داسې معلومېږي چې له کله راهیسې پښتانۀ پیدا شوي دي، د پښتنو په ژوند کښې د حجرې رواج شروع شوی دی او په دغه حجره کښې د همسنګ یارانو او همځولو دوستانو په جلسونو کښې د منګي کړنګ او د رباب ترنګ پیدا شوی دی".(17).

**حیا:** د پښتنو د ژوند او ژواك یو بل اهم او زورور قدر حیا او ستر دی، پښتانۀ کله هم د چا حیا نۀ اخلي او نۀ د ځان ستر ماتوي، یعني د پردې ډېر خیال ساتي او د حیا له کبله په ډېرو تکلیفونو ځان اخته کوي خو د چا حیا نۀ اخلي، ښاغلی دروېش دراني د پښتنو د حیا په حقله وایي:
"په پښتونولۍ کښې پت، حیا او ستر هغه ارزښتونه دي چې خیال یې ساتل په هر حال کښې ضروري وي، د دغو ارزښتونو بې قدري د پوزې پرېکېدل ګڼل کیږي"(18).

د ملي هېنداري د یوۀ نکل هیرو ظریف خان د حیا او شرم په اړه د یوۀ غرۀ غوندې درونـدوالی لري او کله چې د دۀ د پلار د ملګري خان کور ته ورغلی او د خدري شیطانت ورسره بدرګه روان ؤ چې خان دی له خپلې ماینې سره پرېښوو او خان ماجت ته ولاړ په دغه وخت کښې د ظریف خان د حیا انتها ته وګورئ:
"ظریف خان او د خان ښځه پر نغري سره ناست دي، ظریف خان کښته ګوري، ګرسره سترګې نۀ وراړوي، چرت یې په مابۍ کښې دی، خان کله د دروازې تر چاکو ورته ګوري کله غوږ ونیسي چې څۀ وایي او څۀ کوي؟ خو تر پایه ظریف خان چپ ناست ؤ او کښته یې کتل، هیڅ ږغ یې نۀ کاوۀ، د خان د ماینې په غاړه یو غمی دی چې ځل و بل کیږي لکه څراغ داسې رڼا کوي، ظریف خان اخر ته یو وار سترګې و دا غمي ته ورواړولې بېرته یې کښته واچولې، خان چې دا وضعیت ولید لږ څۀ په شکي شو، خو ږغ یې و نۀ کړ، چې ته ودرېږه چې څۀ کوي؟ خو تر نیمې شپې ورته ولاړ ؤ نور څۀ یې و نۀ لیدل نو خونې ته ورننوت و

ظریف خان ته یې وویل چې ستا لکه چې دا ښځه خوښه شوله، او زما ستا د پلار سره د زړۀ اشنائي درلوده نو دغه ښځه به درپرېږدم، چې ستا خوږه ده، تر تا قربان ده، د ظریف خان دا خیال شو چې خان په ما خطاوتی که څۀ؟ چې دا خبره یې وکړه نو یې پر خان ناره وکړه:

که ګل کي ګل کي.. په هندوستان کي سپرلي ګل کي
دا هم د رب رضا ده چې ورور یې ناست وي ورېنداري بل کي
ها ها ورېنداري بل کي

یعني دا عجبه ده چې تۀ ناست یې او زۀ به ستا و حرم ته ګورم، ته زما پلار یا ورور یې دا مي ورېنداره ده."(19).

دا ؤ د پښتنو د حیا په حقله د ملي هېنداري د نکلونو نمونه، دغسې د پښتني کلتوري توکي ټول د ملي هېنداري په نکلونو کښې راغلي دي هغه که جرګه ده، که اشر، تیږه، بدرګه، ننواتې، د همسایه خیال، پت، غیرت او داسې خو دلته د ټولو احاطه په یوه مقاله کښې کول ګران کار دی په هم دغو توکو اکتفا کوم.

***

# حوالې

(1)اردو داستان تحقیق و تنقید، قمر الهدائی فریدی ایجو کیشنل بک هاؤس علیگڑھ،2000ء، ص52.

(2)ایضاً، ص11.

(3) نوري، ګل محمد ، ملي هېنداره، د مومن خان او شېرینو نکل، صداقت خپرندویه ټولنه، کندهار، افغانستان،1390ه. ش، 2012ء، مخ137.

(4) ایضاً، مخ139، 140.

(5) خټک، خوشحال خان، د خوشحال کلیات، ترتیب او سمونه عبدالقیوم زاهد مشوانی، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، دویم چاپ، 1387هـ ، 2008ء، مخ88.

(6) درانی، درویش، د پښتني ژوند کړۀ وړۀ، صحاف نشراتي مؤسسه کوټه، 2014ء، مخ177.

(7) ایضاً، مخ185.

(8) نوري، محمد ګل، د موسیٰ جان او ولي جان نکل، مخ82.

(9) درانی، درویش، د پښتني ژوند کړۀ وړۀ، مخ185.

(10) نوري. محمد ګل، ملي هېنداره، مخ9.

(11) ایضاً، مخ131.

(12) درانی درویش، د پښتني ژوند کړۀ وړۀ، مخ186.

(13) نوري، محمد ګل، مخ157، 158.

(14) نوري، محمد ګل، ملي هېنداره، مخ94.

(15) ایضاً، ملي هېنداره، مخ182، 183.

(16) شینواری، امیر حمزه، مشموله د پښتو ادب پوهنه، سحر ګل کتوزی، یونیورسټي پبلشرز قصه خوانۍ پېښور، (س ن) مخ165.

(17) اثر، عبدالحلیم، قاضي، د پښتو چاربیتې باغ و بهار، پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټي، مخ27.

(18) درانی، درویش، د پښتني ژوند کړۀ وړۀ، مخ180.

(19) نوري، محمد ګل، ملي هېنداره، د ظریف خان او مابۍ نکل، مخ222، 223.